(ج) جی نہیں۔
(د) اس سلسلے میں عرض ہے کہ مذکورہ روڈ پر کل گیارہ پل ہیں جن میں سے سات پل مکمل ہو چکے ہیں اور باقی چار پلوں پر کام جاری ہے۔

جناب زرین گل: شکریه، محترم سپیکر صاحب۔ محترم سپیکر صاحب! په دے کښې محکمے چه کوم جواب راکړے دے چه دا ټول یوولس پلونه دی، په یوولسو کښې اُووه مکمل دی او څلور زیر تعمیر دی۔ زما ضمنی سوال دا دے، زه د محترم وزیر صاحب نه ستاسو په وساطت تپوس کوم چه دا به کله مکمل کیږی؟ ولے چه د دے خو شل کاله اوشو۔ دویم زما ضمنی سوال دا دے

چه آیا دا شینګل روډ چه دے، دا دربند تهاکوټ روډ، دا ډیر د اهمیت حامل روډ دے او دا دَ شاهراه ریشم متبادل روډ دے نو آیا د دے د Black topping او د پخیدو په مستقبل قریب کښې څه پروګرام شته؟

وزیر بلدیات: سپیکر صاحب! انہوں نے جو ضمنی سوال کیا ہے تو میں On the spot شاید جواب نہ دے سکوں کہ کب مکمل کیا جائے گا اور اس کی Black topping ہو گی یا نہیں لیکن جو ان کا کوسچن تھا جناب، تو گیارہ Bridges میں سے سات پل مکمل ہیں۔ جس وجہ سے یہ Delay ہوا ہے تو وہ چار Bridges ہیں اور ان پر کام جاری ہے یعنی Kilometer one اور Kimlometer 36, 52 and 58 پر تو کام بند نہیں ہوا ہے۔ ان کا جو Original سوال تھا تو اس کے جواب میں میں یہ کہنا چاہتا ہوں کہ اس پراجیکٹ میں کافی پرابلمز رہے ہیں۔ FWO نے 1984-85 میں یہ شروع کیا تھا اور 1987-88 میں Incomplete چھوڑ کر چلے گئے۔ اس کے بعد سی اینڈ ڈبلیو نے اسے اپنے چارج میں لیا اور اس پر کام ابھی جاری ہے۔ یہ میں مانتا ہوں، میں یہ تفصیل نہیں بتا سکوں گا کہ کیا وجہ ہے کہ یہ اتنا لیٹ ہوا ہے لیکن کام اس پر رکا نہیں ہے۔ ہمارے ایکسیئن نے جو جواب دیا ہے، اس کے مطابق چار Bridges رہ گئے ہیں، سات مکمل ہو گئے ہیں اور جو چار رہتے ہیں، ان پر کام شروع ہے جناب۔ ابھی تک One hundred and sixty nine million expenditure اس روڈ پر ہو چکا ہے، One hundred and sixty nine million, that is about seventen crore rupees ابھی تک اس روڈ پر Spend ہو چکے ہیں جناب۔

جناب نیک عمل خان: پوائنٹ آف آرڈر، سر۔

جناب سپیکر: لږ کښینئ جی، پوائنټ آف آرډر پکښې نشته دے۔ دے کښې دا یو کونسچن دَ شعیب خان راځی، زما خیال دے، دا به Defer کړو۔

جناب نیک عمل خان: نه جی، شعیب خان زما د ضلع سړے دے، زه نے وایم کنه۔ څه له ترے کټ کوئ جی۔ د شعیب خان سوال ترے نه ولے کټ کوئ۔ زه وایمه کنه جی۔ زما د ډسټرکټ خبره ده۔ (قهقهے) زما د ډسټرکټ خبره ده۔

Minister for Local Government: Speaker Sahib! unless he has

given it in a writting, it should not be permitted.

جناب نیک عمل خان: هغوئ ما له اجازت راکړے دے۔ زه تلے ووم جی۔

جناب بشیر احمد بلور: زبانی اجازت نے ورکړے دے۔

جناب سپیکر: تاسو سره د هغوئ Written اجازت شته دے؟ که وی نو اوښایئ۔

جناب نیک عمل خان: یره جی، خبره دا ده چه دا څه دومره لویه خبره نه ده۔ منسټر صاحب ټولو خلقو له پرچے په لاس کښې ورکړے، ما ته به هم څه خبره اوکړی، خبره به خلاصه شی۔ دا دومره خبره خو نه ده۔ (قهقهے)

جناب محمد اورنگزیب خان: تاسو نے هاؤس ته Put up کړئ، دا ضمنی کونسچن خو ورباندے کولے شو کنه۔

جناب سپیکر: دا رول 38 لږ اولولئ۔

جناب محمد اورنگزیب خان: جی، تاسو نے هاؤس ته Put up کړئ نو ضمنی کونسچن خو پرے کولے شو کنه جی۔

جناب سپیکر: یره جی، هسے یوه خبره کومه۔ تاسو د خپل یو ضمنی کونسچن د پاره یعنی د یو سړی حق وهئ چه هغه سړے پخپله نه دے غیر حاضر، که پخپله غیر حاضر وے خو ما به نه وے Defer کړے۔ تاسو اوس خپل مطلب کوئ، تاسو اوس خپل کونسچن ولے نه کوئ یعنی د بل په هغه رادانګئ۔ که هغوی غیر حاضر وے نو ما به بالکل تاسو Allow کړے وئ۔ دا عجیبه غوندے خبره کوئ، هغه غریب نشته یا خو هغوی چا له لیکلے ورکړے وے چه زما د پاره دا کونسچن دغه کړئ۔ بس ټهیک ده، زه به بیا هم دغه اوکړم خو که هغه شانتے نه وی نو بیا خو پکار ده چه --------

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! Just to correct the record, وہ غیر حاضر نہیں ہیں۔ وہ غیر حاضر نہیں ہیں، انہیں ---------

جناب سپیکر: اسلئے میں اس کو Defer کر رہا ہوں۔

حاجی محمد عدیل: انہیں By force روکا گیا ہے۔

جناب سپیکر: جو کچھ بھی ہے، میں اس میں -------

حاجی محمد عدیل: آپ نے غیر حاضر کہا ہے تو وہ غیر حاضر نہیں ہیں۔

جناب سپیکر: آپ میرے خیال میں اردو نہیں سمجھتے۔ میں نے کہا ہے کہ وہ غیر حاضر اپنی وجہ سے نہیں ہیں' اسلئے میں اس کو Defer کر رہا ہوں۔ This is beyond his approach. میں نے یہ الفاظ کہے ہیں۔

حاجی محمد عدیل: اسلئے کہ انہیں روکا گیا ہے۔

وزیر بلدیات: جناب سپیکر! یہ میری Request ہے کہ آپ ڈپٹی سپیکر کو تھوڑے سے Lessons سمجھائیں' خدا نخواستہ آپ کہیں Absent ہونے تو He is going to be Speaker, and he does not know the rules.

جناب سپیکر: اب میں یہ بقایا سیشن ان کیلئے چھوڑتا ہوں۔ (قہقہے) دا Defer شو جی- Defer شو' هغوی به نے پخپله پیش کوی- د هغه غریب سوال دے' او س هغه نشته دے او دوئ د هغه په سوال باندے راداتگی-

معزز اراکین کی رخصت

جناب سپیکر: ان معزز اراکین اسمبلی نے رخصت کیلئے درخواستیں ارسال کی ہیں: جناب ملک قسیم الدین صاحب نے 9-2-1999 تا 13-2-1999 کیلئے اور جناب فرید طوفان صاحب' ایم پی اے' نے 10-2-99 کیلئے تو Is it the desire of the House that leave may be granted to the honourable Members?

Mr. Muhammad Iftikhar Khan Mohmand: No.

Mr. Speaker: 'No' to both or 'No' to one, tell me that. (Laughter)

Voice: Both of them.

Minister for Local Government: Sir, everyone is very happy that Farid Tofan is not here today,even his own party, jee. (Laughter)

میاں افتخار حسین: سپیکر صاحب! دا یوسف ایوب صاحب ډیر Active دے- دوئ پخپله هم چه وزیر اعلیٰ نه وی نو ډیر خوشحاله وی- د هغوئ کردار دوئ ادا کوی-

Mr. Speaker: Leave is granted and the sitting is adjourned for tea

break and we will re-assemble after thirty minutes. Thank you.

(اس مرحلے پر چائے کیلئے ایوان کی کارروائی آدھے گھنٹے کیلئے ملتوی ہوگئی۔)

(وقفہ کے بعد ڈپٹی سپیکر، حاجی محمد عدیل مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔)

جناب بشیر احمد بلور: Point of personal explanation باندے خواست کوم چه ما ته بانم راکړئ۔

جناب ڈپٹی سپیکر: څه جی۔

جناب بشیر احمد بلور: دا 14 دسمبر باندے همایون سیف الله خان دلته هاؤس کښې تقریر کړے وو او بیا هغه پریس کښې راغلے وو۔ زه موجود نه وومه۔ هغوی پکښې دا لیکلے وو چه "ہمایون سیف اللہ نے کہا ہے کہ خالص منافع کے ضمن میں جب یہ قرارداد اسمبلی کے فلور پر وزیر آبپاشی کی حیثیت سے اے این پی کے رکن بشیر احمد بلور نے پیش کی تو ہم نے انہیں کہا کہ اس میں آرٹیکل 190 کا اندراج کریں لیکن انہوں نے ایسا نہیں کیا۔ اس آرٹیکل کے تحت تمام Authorities سپریم کورٹ آف پاکستان کے فیصلے کی پابند ہیں اور جو اس پر عملدرآمد میں تاخیر کرے گا، اس کے خلاف توہین عدالت ہوگا"۔ جناب سپیکر صاحب! دے باره کښې زه عرض کوم ---

جناب ڈپٹی سپیکر: بشیر احمد بلور صاحب! میں آپ سے استدعا کروں گا کہ چونکہ آنریبل ممبر، ہمایون سیف اللہ صاحب اس وقت موجود نہیں ہیں، جب وہ آجائیں تو پھر آپ بات کرلیں۔ میرا خیال ہے کہ یہ زیادہ بہتر رہے گا۔

جناب بشیر احمد بلور: سپیکر صاحب! میرے خیال میں ان کی ضرورت نہیں ہے۔ صرف ریکارڈ ٹھیک کرنے کیلئے آپ سے عرض کرتا ہوں کیونکہ جب انہوں نے یہ بات کی تھی تو میں موجود نہیں تھا۔

جناب ڈپٹی سپیکر: نہیں، اگر وہ بھی اس کا کچھ جواب دینا چاہیں۔

جناب بشیر احمد بلور: وہ بھی جواب دے دیں مگر میں اس وقت نہیں تھا تو انہوں نے یہ کہا تھا جس کے بارے میں میں نے اسمبلی سیکرٹریٹ سے مکمل ریکارڈ نکالا ہے۔ اس ریکارڈ میں کوئی ایسی قرارداد میں نے پیش نہیں کی ہے۔ ایک قرارداد آپ کی اور ایک علی افضل جدون کی بجلی کے منافع کے بارے میں ہے۔ اس کے بعد سردار غلام نبی صاحب کی ایک قرارداد ہے پراونشل اس کے بارے میں اور پھر میں یہ بھی عرض کرتا چلوں کہ

صوبائی وزیر کی حیثیت سے میں نے کبھی بھی قرارداد اسمبلی میں پیش نہیں کی ہے اور نہ کبھی کسی صوبائی وزیر نے قرارداد پیش کی ہے۔ اسلئے میں نے ریکارڈ درست کرنے کیلئے یہ بات کی ہے۔ شکریہ جی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: شکریہ جناب۔

جناب محمد اورنگزیب خان: محترم سپیکر صاحب! کورم پورا نہیں ہے۔ گنتی کر لیں جی۔

آوازیں: پورہ دے، پورہ دے۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ویسے گنتی کر لیتے ہیں۔

(اس مرحلے پر گنتی کی گئی اور کورم پورا پایا گیا۔)

جناب ڈپٹی سپیکر: کورم پورا ہے جناب۔

Minister for Local Government: Point of order, Sir.

Mr. Deputy Speaker: Honourable Minister for Local Government.

وزیر بلدیات: آپ کو کافی عرصہ کے بعد اس کرسی پر دیکھ کر میں آپ کو مبارکباد دینا چاہتا ہوں اور جب تک آپ بیٹھے ہیں، ہم انشاء اللہ کورم ٹوٹنے نہیں دیں گے حالانکہ کافی لوگوں کی کوشش ہے کہ کورم ٹوٹ جائے۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! ایک بات یوسف ایوب صاحب ذہن میں رکھیں کہ سپیکر صاحب ابھی اپنے چیمبر میں بیٹھے ہوئے ہیں۔ (قہقہے)

ارباب سیف الرحمان: جناب سپیکر! نن سحر مونږه ستاسو د پاره سفارش کړے وو او زمونږه خُله بخښوره شوه او تاسو ته کرسئ ملاؤ شوه۔

جناب نجم الدین: جناب سپیکر صاحب! زه د ټولو نه مخکښ مبارکی درکوم او د کورم د کمی نشاندهی چه مونږه کوؤ نو دے کښ جی یو غټه وجه ده۔ دا د اقتدار بنچونو والا کسان ټول دننه د چیف منسټر په دفتر کښ ناست دی او دومره دومره فائلونه او درخواستونه ورسره دی او دوئ دے اسمبلئ له نه راځی۔ مونږ وایو چه اسمبلی دوئ راغوښتلے ده چه احساس ورسره وی چه کم از کم دے اسمبلئ کښ حاضری کوی۔

مسئلہ استحقاق

جناب ڈپٹی سپیکر: نجم الدین خان! اوس خو کورم پوره دے کنه چه واک آؤټ او نه کړے۔ We will proceed with the Agenda now.

Privilege Motions. Honourable Mian Muzzafar Shah, MPA, and Mr. Jan Muhammad Khan Khattak, MPA, to please move their joint 'Privilege Motion' No. 101 in the House, please.

جناب جان محمد خٹک: سپیکر صاحب! دا جی د یکم فروری په "خبریں اخبار" کښې زما او دَ باچا متعلق یو خبر شائع شوے وو۔ زه به نے په اردو کښې اووایم، په هغه کښې نے لیکلی وو چه "موٹر وے زمین کی فروخت' اے این پی کے ارکان اسمبلی نے افسر شاہی پر دباؤ بڑھا دیا۔ میاں مظفر شاہ اور جان محمد خٹک خویشگی بالا کے درمیان زمین مہنگے داموں خریدنے کیلئے انتظامی بیوروکریسی پر بے پناہ دباؤ ڈال رہے ہیں۔ کمشنر نے دباؤ کو قبول کرنے سے انکار کر کے قومی خزانے کو ساٹھ کروڑ روپے کے نقصان سے بچا لیا۔ زمین کی آٹھ ہزار فی مرلہ قیمت مسترد کر دی گئی۔ رپورٹ کے مطابق موٹر وے کیلئے ضلع نوشہرہ کی پینتیس کلو میٹر زمین کے مالکان کو ادا کی جانے والی رقم میں مذکورہ ارکان کا پچاس فیصد حصہ ہے"۔ خبره دا ده سپیکر صاحب، چه مونږ خو دومره احترام د پریس والا کوؤ چه زمونږه اپوزیشن واک آؤټ اوکړی نو د Treasury Benches کسان ورپسے لاړ شی او را نے ولی، چه دوئ واک آؤټ اوکړی نو زمونږ ممبران او منسټران ورپسے لاړ شی۔ کم از کم لږ د شرافت او د انسانیت هم یو حد وی او د دے مظاهره کول غواړی۔ دا چه زما نوم لیکلے دے، "خویشگی کے قریب" نو خویشکی زما حلقه هم نه ده، هغه د باچا حلقه ده۔ زما په حلقه کښې هډو موټر وے تلے نه ده، نه زما خپله زمکه پکښې شته۔ "لوگوں کو Compensation دینے میں اس کا آدھو آدھ ہے"، په دغه کښې نے لیکلی دی۔ زما خیال دے چه دا خو څه ډیر بے انسانیته کار نے کړے دے۔ د دے دا مطلب خو نه شو چه مونږ د دوئ احترام کوؤ نو دوئ د دا قسم غلط الفاظ لیکی۔ مونږ دَ الله فضل دے، اوسه پورے دومره موده ایم پی اے توب اوکړو او په داسے ایمانداری باندے مو ایم پی اے توب اوکړو، څوک خو دے دا ثابت کړی چه ما وزارت کړے دے درے کاله، یو پائی خو د څوک ثابت کړی چه ما Embezzlement کړے دے۔

نو مونږه چه خپلوحلقو ته خو، هلته کښې به پیپلز والا هم وی، نیشنل والا به هم پکښې وی، جماعت اسلامی والا به پکښې هم وی، نو هغه خلق ټول زمونږه د حلقے خلق دی، نومونږه به یو، یو سره صفائی کوؤ۔ نو دے د پاره سپیکر صاحب، ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه دا به تاسو استحقاق کمیټۍ ته حواله کړئ چه د دے پوره پته اولګی۔ ما بیا کمشنر ته هم په دے کښې ټیلیفون اوکړو۔ کمشنر هم بیا دوئ ته یو نوټس ورکړو۔ که په دے مسئله کښې دا چا ثابته کړه چه ډی-سی نوشهره یا کمشنر سره مونږه د Compensation متعلق چرته خبره هم کړے وی، باچا به کړے وی، د دوئ حلقه ده، دے به خپلو خلقو د پاره هر څومره Fight کوی لیکن ما خو د دے نوم هډو نه دے اخستے چه د دے Compensation زیات کړئ یا کم کړئ۔ د دے د پاره زما Protest دے او دا تاسو ته درخواست کوؤ چه دا استحقاق کمیټۍ ته ریفر کړئ۔ دے کښې کمشنر هم راوغواړئ، دے کښې ډی-سی هم راوغواړئ۔ دے کښې د نیشنل هائی وے والا خپل یو ریونیوډیپارټمنټ دے، هغوی ډائریکټ پیسے ورکوی، نه پکښې ډی-سی پیسے ورکوی او نه کمشنر، هغه به هم راوغواړئ او دا به تاسو مهربانی اوکړئ او کمیټۍ ته به نے حواله کړئ، مهربانی۔

<u>میاں مظفر شاہ</u>: جناب! څنګه چه جان محمد خان اوونیل، هم دغه خبره ده او رومبے خو زه دا خبره په دے فلورآف دی هاؤس کومه چه دَ جان محمد خان دے معاملے سره هیڅ قسمه تعلق نشته دے۔ نه نے دَ دے حلقے سره تعلق دے، نه نے د دے زمکو سره تعلق دے او نه نے دے موټر وے سره تعلق دے۔ دا ټول موټروے چه تیریږی، دا زما په حلقه کښې تیریږی۔ داسے چل اوشو جی چه کومے زمکے په موټروے کښې راتللے نو د نوښار خلقو هغه زمکے ورکړے او په هغے کښې یوه مسئله دا اوچته شوه چه هغه وخت یک ساله باندے دوئ Payment کولو۔ یک ساله د یو مرلےجوړیده هغه وخت کښې سو روپئ او ډیرھ سو روپئ، زمونږه خلقو چغے اووهلے چه جناب، نن سبا خو په سو او ډیرھ سو روپو باندے مرله خاوره هم نه ملاویږی چه جائیکه زمکے۔ حالانکه هغه د رسالپورکنټونمنټ سره دی، د انډسټریل ایریا سره "باره باندہ"

دا د روډ غاړه ده، دا چه کوم خائے لوکوموټو فیکټری جوړه ده، دلته دا زمکے دی نو مونږه Request اوکړو گورنمنټ ته چه په دے ریټ باندے د دوئ غور اوکړی او بله خبره دا ده سپیکر صاحب، چه د دے د ډی سی سره، کمشنرسره هیڅ تعلق نشته دے، د دے خپل یو ایکوزیشن تحصیلدار دے د موټروے والا چه هغه دوئ جوړکړے دے او هغوی باقاعده ایوارډ هم کوی، هرڅه کوی، هغوئ سره زمونږه دا Tussle راغلوچه مونږه په سو او په ډیرہ سو مرله باندے دا Compensation نه منو- داسے چل اوشو چه بیا ما چیف منسټر ته Request اوکړو- چیف منسټر مونږه ته اوونیل چه تاسو دا موټروے مه بنده وئ- ما وئیل جی بندیږی نه لیکن کم از کم دا ایوارډ غلط دے۔ سپیکرصاحب ، که تاسو توجه کوئ ، This is a very important privilege motion او زما په خیال چه اوړو والا منسټر صاحب هم اخوا په خپلو خبرو باندے انخبتے دے -------

Mr. Depty Speaker: Please, you continue.

میاں مظفر شاہ: نو دا Actually دے اخبار والا ډیر زیاتے کړے دے۔ دا سلیم غیاث صاحب دے، که هرڅوک دے، دے کښ بیا چیف منسټر یو کمیټی جوړه کړه او هغے کښ یوسف ایوب Depute کړو جی- د کمشنر په آفس کښ زه، یوسف ایوب، NHA والا او د زمکو مالکان، دوئ کښیناستو او هلته مو د زمکے Maximum rate نو هزارروپئ مقرر کړو- دا فیصله مو هم اوکړه چه Manimum rate به نه Fix کیږی ولے چه د خراب حالت والا زمکے هم وی او ښے هم وی، نو مرله نو هزار روپئ Fix شو- بیا مونږه د هغے نه خبرنه شو، بیا ایوارډ هم شوے دے، هرڅه شوی دی، نه ترے بیا گورنمنټ خبر دے، نه ترے مونږه خبر یو جی نو آخرکښ دا شے راغلو او اخبارکښ مو چه اوکتل، "سلیم غیاث صاحب" ډیر په Detail خبره لیکلے ده چه "خویشگی بالا کی زمینیں" او دے کښ تاسو ته بله خبره اوکړم- د خویشکی بالا د زمکو تر اوسه پورے ایوارډ نه دے شوے، د نوشهره د زمکو، د بهرام کلی او د وند تر اوسه پورے ایوارډ نه دے شوے او نه هغوی پیسے اخستے، ایوارډ صرف د فصلونو شوے دے- هغه زمونږه، د چارسدے او د ایوب جان صاحب د زمکو

د فصلونو شوے دے او هغه هم Equal، باره هزار دے که څومره دے، I do not remember. مخکښے آتهٔ هزار وو، بیا باره هزارشو، هغه نے بیا ورکړے دے۔ نو اوسه پورے د خویشکی بالا نه د زمکے Compensation ورکړے شوے دے او نه تر اوسه پورے ایوارډ شوے دے۔ نو د "سلیم غیاث صاحب" خدائے خبر کوم Intelligence sources دی چه ده ته نے ونیلی دی۔ زه به یوه بله خبره اوکړم چه دوئ وائی چه د کمشنرصاحب په آفس کښ د یوسف ایوب په موجودگئ کښ Maximum پیسے چه کوم دی، هغه Fix شوی دی جی، نو دے کښ دا خبره یا وینا چه کمشنرصاحب ساتهٔ کروړ، که پته نشته چه څومره کروړ بچت اوکړو او مونږه نیم په نیمه واخستے، لکه جان محمد خان چه اوونیل، په دے کښ د پاکستان پیپلز پارټئ خلق شته، د نیشنل عوامی پارټئ خلق شته، Neutral خلق شته، مالکان دی جی، هغوی نه به مونږه څنگه پیسے اخلو جی؟ او بله خبره دا ده چه چیک مالک اخلی، چیک مالک اخلی، د ایکوزیشن د دے دغه ورکوی بلکه ما ورسره جی جهگړه هم کړے ده۔ داسے کار کړے دے هغه ایکوزیشن والا، لکه دا د میاں صاحب سیټ دے، دا د نیک عمل خان دے، میاں صاحب له خو نے جی آتهٔ هزار ورکړے دی او نیک عمل خان له نے چار هزار هم دغلته ورکړے، نو ما کمشنر ته، چیف منسټر ته اوونیل چه په دے هم انکوائری اوکړئ چه داسے ولے شوی دی؟ کم از کم چه دا یو لاتن دے، یو سړک دے، یوطرف ته ټوله زمکه ده، یو له آتهٔ هزار ورکوی او بل ته چار هزار ورکوی، هغه هم لا انکوائری ده۔ بیا یوسف ایوب موجود وو، لوکوموټو سره د دوئ هغه EPZ راغلے وو، چیف منسټر هلته راغلو، کمشنر صاحب ته دا هم اوونیل چه دے کښ انکوائری اوکړئ چه دا ولے داسے شوی دی؟ نوجناب، زما هم دا Request دے لکه جان محمد خان چه اوونیل، دا شے دِ پریویلجز کمیټئ ته حواله شی چه بالکل Clear cut privilege violate شوے دے۔

Mr. Deputy Speaker: Hon'able Member, Iftikhar Mohmand Sahib.

جناب محمد افتخار خان مهمند، جناب سپیکر صاحب! دا کوم تحزیک استحقاق په دے معزز ایوان کښ زمونږه یو دوه محترم رونړو پیش کړے دے، مونږه

ټولو له دا پکار ده چه مونږه مکمل او بهرپور حمایت دَ دے اوکړو۔ جناب سپیکرصاحب! گزارش دا دے چه د پریس والا رونړو مقام او احترام په خپل ځائے باندے دے، صرف دا کتل غواړی چه یو عوامی نمائنده ټول دار و مدار د هغه په خپله علاقه کښې دَ هغه په Reputation باندے وی نو هر کله چه داسے یو بے بنیاده خبر شائع شی نو هغه عوامی نمائنده سره کومه لاره وی؟ تاسو دلته کښې ډیر ښه طریقے سره چه کومه خبره اوکړله ډیر To the point، د دَے موقع سره وابستگی هم لری خکه چه تاسو دا وئیلی وو چه د اسمبلی سیشن هغه ستر دن چه کوم آئینی Requirement دے، هغه هم ایله مونږه نه شو پورا کولے۔ Last time, تاسو ته پته ده چه 120 دن پکار وی نو په هغه ایک سو بیسواں دن باندے هغه اسمبلی راغوښتے وه او دغه شانتے اوس چه ځلور، پینځه ورځے پاتے وی هغه ستر دن کښې نو جناب سپیکر صاحب، زما صرف دا گزارش دے که داسے د یو معزز محترم ممبر باره کښې یو اخباری خبر شائع شی نو هغه به سیشن ته انتظار کوی چه هغه سیشن راوغوښتے شی او بیا په هغے کښې هغه محترم ممبر تحریک استحقاق پیش کړی او په هغے باندے بیا عملدرآمد کیږی۔ زما دا گزارش دے جناب سپیکر، چه که تاسو د یو Special dispensation په ذریعه باندے، دا ډیر ضروری دے، که تاسو پرے لږ غور اوکړئ، زما گزارش دا دے که اسمبلی په سیشن کښې نه وی او هر کله یو داسے محترم ممبر صاحب سره داسے حرکت اوشی نو تاسو بحیثیت د پریویلجز کمیټئ د چیئرمین هغه محترم ممبر صاحب ته دا حق ورکړئ چه هغوی تاسو ته رجوع اوکړی او هغه ته تاسو څه نه څه ریلیف ورکړے شئ خکه چه بیا په دے باندے که تاسو اوگورئ، اخبارکښې که بیا تاسو د هغے تردید اوکړئ نو هغه نے یو داسے ځائے کښې ورکړے وی چه هغه بالکل څوک لوستے نه شی۔ نو ستاسو په وساطت باندے جناب سپیکر صاحب، زه به گزارش دا کومه چه مونږه دَ دے تحریک اِستحقاق بهرپور حمایت کوؤ او تاسو ته به دا خواست کوم چه تاسو په خپل رومبنی فرصت کښې په دے باندے کارروائی اوکړئ۔ مهربانی۔

Mr. Deputy Speaker: Information Minister, Subhan Khan, please.

جناب عبدالسبحان خان (وزیر اطلاعات): قابل احترام سپیکر صاحب! دا کوم پریویلج موشن چه زمونږه آنریبل ممبرز، جان محمد خان او میاں مظفر شاه صاحب پیش کړے دے، حقیقت خبره خو دا ده چه مونږه ته بحیثیت مسلمان د اللهٔ تعالیٰ د طرف نه او د هغه د رسول د طرف نه دا حکم دے چه په چا بهتان یا الزام لګولو نه تاسو خان ډیر زیات بچ اوساتئ۔ مونږه خو همیشه دلته په اسمبلئ کښې، که کوم خانے کښې هم د ورکنګ جرنلسټس مسئله راغلے ده او بیا لږه شان ګله With due apology ستاسو نه هم ده چه بعض خبرے، زما په خیال چه پخپله تاسو د پارلیمنټ Experience ډیر زیات دے، تاسو څومره سټډی کوئ او څومره Preparation کوئ، نو زما په خیال دا کم کسان داسے کوی، نو باوجود د دے چه اخبار کښې دا راغلل نو چه څنګه افتخار خان اوفرمائیل چه تاسو خپل Suo moto power استعمال کړے وے او دا پریویلج کمیټئ ته تاسو غوښتے وے خو بیا هم مونږه دا وایو او جرنلسټس رونړو ته دا وایو چه د چا جامو ته تتی کول، دا ښه خبره نه ده۔ که د چا خپل عزت خوښ وی نو د هغه په بل باندے هم عزت پیرزو شی۔ دا په علاقه کښې خلقو، جان محمد خان زما په خیال باندے هیټ ټرک وهلے دے، د مظفر شاه صاحب دا دویم دریم خل دے، پینځه خله دے د صوبائی اسمبلئ ممبر پاتے شوے دے۔ مظفر شاه باچا فیډرل منسټر پاتے شوے دے، د قومی اسمبلئ ممبر پاتے شوے دے او فرض کړه که دوئ سره د خپلے حلقے د د خلقو همدردئ او تائید نه وے نو نن به دوئ څنګه دلته ناست وو۔ نو په دے باندے مونږه دوئ ته دا Request کوؤ چه کوم خانے کښې د ورکنګ جرنلسټس مسئله راغلے ده، Being an Information Minister ما Full support کړی دی، سره د ستاسو پورے، تاسو بحیثیت ډپټی سپیکر۔ ستاسو په چیمبر کښې مونږه هغوی ته اوونیل چه تاسو یو ډرافټ اوکړئ د پریس کونسل متعلق، مونږه سپورټ کوؤ، هم ټریژری بنچز والا، هم اپوزیشن بنچز والا، نو مونږه چه یو سړی له د روزئ لاس ورکوؤ، دلته خو که څوک په اپوزیشن کښې دی یا په ټریژری بنچز کښې دی خو هغه د پښتو متل دے چه "په کور به جنګ کوؤ په بهر به ننګ کوؤ"، اوس زمونږه د اپوزیشن د یو ملګری خلاف داسے الزامات

او بهتان لگی نو هغه جی ښه خبره نه ده۔ زمونږه د ټریژری بنچز د طرف نه تاسو ته دا Request دے چه تاسو دا پریویلجز کمیټئ ته اولیږئ جی۔ Thank you, Sir.

Mr. Deputy Speaker: Honourable Yousaf Ayub Khan, Honourable Minister for Local Government.

جناب یوسف ایوب خان (وزیر بلدیات): شکریہ۔ سپیکر صاحب! میاں مظفر شاہ اور جان محمد خان نے جو بات کی ہے، تو مجھے یاد ہے کافی عرصہ پہلے سیشن کے دوران ہی، کیونکہ میاں صاحب کا حلقہ تھا، انہوں نے Object کیا، وہ چیف منسٹر صاحب کے پاس گئے، موٹروے کیلئے ایکوزیشن کے سلسلے میں انہوں نے ایک سپیشل کمیٹی بنائی، ہماری میٹنگ ہوئی، ہمیں کافی بے انصافی اس میٹنگ میں نظر آئی کیونکہ NHA والے بھی تھے، ریونیو ڈیپارٹمنٹ والے بھی تھے، کمشنر کے آفس میں میٹنگ ہوئی تھی، ان کے علاقے کے لوگ بھی تھے، Affectees بھی تھے اور جو فصل ہے، per Acre وہ پشاور میں مختلف ریٹس لگا رہے تھے، نوشہرہ میں مختلف تھے، چارسدہ میں مختلف تھے، مردان میں مختلف تھے، ان کو ہم نے Rectified کرنے کی کوشش کی اور Consensus کے ساتھ یہ بات ہوئی کہ اس کے ریٹس Realistically لگانے ہیں کیونکہ یہ National importance کا پراجیکٹ ہے۔ یہ کسی خاص ڈسٹرکٹ یا علاقے کا پراجیکٹ نہیں ہے، It is very very important project اور لوگوں کو اگر تھوڑی بہت قربانی بھی دینا پڑے تو وہ بھی دینی چاہئے۔ وہ لوگ جو وہاں بیٹھے ہوئے تھے، اس پر رضامند ہو گئے کہ چونکہ یہ National importance کا پراجیکٹ ہے تو ہم اس طریقے سے اس کو روکیں گے نہیں کہ خدانخواستہ یہ پراجیکٹ ہی بند ہو جائے اور خاص طور سے نوشہرہ اور چارسدہ میں، یہ میں کہوں گا جی اور جیساکہ انہوں نے کہا کہ ایوارڈ بھی نہیں ہوئے لیکن لوگوں نے Voluntarily زمینیں Hand over کر دی ہیں اور میٹنگ کے کچھ دنوں بعد جو Bayhinder Compen ہے یا NHA والے، جو موٹروے بنا رہے ہیں، ایک روپیہ بھی کسی کو نہیں ملا، ان کی فصل کی Compensation بھی انہیں نہیں ملی اور لوگوں نے اپنی زمینیں Voluntarily دے دی ہیں کیونکہ National importance کا پراجیکٹ ہے تو بڑے اچھے Atmosphere میں ہم لوگوں کی مدد بھی کرنا چاہتے تھے اور ساتھ ساتھ ہم یہ بھی چاہتے تھے کہ یہ پراجیکٹ کسی طریقے سے نہ رکے لیکن یہ بڑی

Unfortunate بات ہوئی ہے کہ اخبار میں اس قسم کی چیز آئی ہے۔ میں گورنمنٹ کی طرف سے I support what they have said اور بے شک پریویلیجز کمیٹی میں چلا جائے۔ افتخار خان نے جیسے کہا کہ ایک ایم پی اے کی تو تھوڑی بہت عزت ہی ہوتی ہے جس کی وجہ وہ اپنے ایریا میں پالیٹکس کرتا ہے' اگر اخباروں میں اس قسم کی خبر آ جائے تو وہ بیچارہ تو Permanently damage ہو جاتا ہے تو پریس والے بھائیوں سے بھی ہم یہ گزارش کریں گے کہ وہ Avoid کریں۔ اس سلسلے میں جی ایک بات اور کرنا چاہتا ہوں' گوکہ یہ جواب اصل میں دینا چاہئے تھا ریونیو منسٹر' جناب پیر محمد خان صاحب کو لیکن چونکہ میں اس کمیٹی کا چیئرمین تھا تو میں اس حوالے سے بیان دے رہا ہوں۔ پیر محمد خان نے بھی ریونیو ڈیپارٹمنٹ کے کچھ اہلکار' جن کے خلاف شکایتیں آئی تھیں' چاہے وہ چارسدہ سے ہوں' نوشہرہ سے ہوں یا پشاور سے ہوں' ان کو Suspend کیا ہے اور ساتھ این۔ایچ۔اے کے لوگوں کے خلاف جو تھوڑی بہت Complaints آئی ہیں تو ریونیو ڈیپارٹمنٹ نے ایس اینڈ جی اے ڈی کو لکھ دیا ہے کہ وہ کیس انکوائری کیلئے ایف آئی اے کو دیا جائے۔ تو فیڈرل ایجنسیز بھی اور ریونیو ڈیپارٹمنٹ خود بھی لوگوں کے خلاف ایکشن لے رہا ہے' جہاں جہاں سے معمولی Complaints آئی ہیں۔ تھینک یو جی۔

<u>جناب ڈپٹی سپیکر</u>: تھینک یو۔ چونکہ یہ خبر یکم فروری کے اخبار میں آئی ہے اور دونوں محرکین' آنریبل ممبرز نے دو تاریخ کو اپنی پریویلیج موشن داخل کی ہے۔ چونکہ 9 تاریخ کو اسمبلی کا اجلاس ہو رہا تھا تو اسلئے آنریبل ممبرز نے چیئرمین پریویلیجز کمیٹی کو Approach نہیں کیا کہ آپ خود اپنے صوابدیدی اختیارات استعمال کریں۔ اگر وہ چیئرمین پریویلیجز کمیٹی کو Approach کرتے تو ہو سکتا ہے کہ رولز کے مطابق وہ کارروائی کرتے۔ میں سمجھتا ہوں کہ محرکین کے علاوہ اپوزیشن اور ٹریژری بنچز' سبھی چاہتے ہیں کہ یہ موشن Committee on Privileges کو ریفر کیا جائے تو Is it the desire of the House that this Privilege motion, moved by Honourable Members, Mian Muzzafar Shah and Jan Muhammad Khan Khattak, should be referred to the Committee on Privileges?

(The motion was carried.)

<u>Mr. Speaker:</u> The motion is referred to the Committee on Privileges. Thank You.

جناب جان محمد خٹک: زه دَ هاؤس شکریه ادا کومه، د ټولو ممبرانو صاحبانو او ورسره ورسره ستاسو هم شکریه ادا کومه۔ مهربانی۔

تحاریک التواء

Mr. Deputy Speaker: Now I will request the Honourable Member. Abdur Rehman Khan, MPA, to please move his 'Adjournment Motion' No. 301.

حاجی عبدالرحمان خان: جناب سپیکر! ډیره مهربانی۔ شکر دے چه ستاسو هم سپیکر شولے، ډیر زړه مے خوشحاله دے او دعا هم به درته کوؤ که خدائے پاک دِ همیشه د پاره سپیکر کړی۔ "معمول کی کارروائی روک کر ایک اہم مسئلے کو زیر بحث لایا جائے کہ حکومت نے شوگر سیس فنڈ غیرمنصفانہ طور پر تقسیم کیا ہے اور حقدار زمینداروں کو نظر انداز کیا گیا ہے، لہٰذا بحث کی اجازت دی جائے"۔

جناب سپیکر صاحب! تقریباً اتلس، شل کاله اوشو چه زمونږه د زمیندارو د ګنو د یو ټرک نه پچیس پیسے فی من د سړکونو د پاره کټ کیږی، پچیس پیسے فی من ملونه ورکوی، دا شوګر سیس فنډ را جمع شی او د هغه خائے سړکونه پرے جوړیږی چه د کوم خائے نه ګنے خی۔ د هغے د پاره بورډ جوړ دے۔ د بورډ چیئرمین هغه کمشنر وی، په هغه بورډ کښ زه هم ممبر یم۔ په شپاړس کاله کښ د بورډ میټنګ نه دے شوے۔ اوس چه کله روپئ راغلے نو جناب سپیکر صاحب، دا انصاف دے چه روپئ د ګنو د زمیندارو دی او حواله نے بل چا ته کړئ؟ ډپټی کمشنر په دفتر کښ مونږه ناست وو او سینیټر صاحب راغلو چه د سینیټر صاحب ګنے نشته، هلته ټول باغونه دی، د شفتالانو، د بټنګانو، د آلوچو او د خرمانئ، ما د هغه سینیټر صاحب نه تپوس اوکړو چه سینیټر صاحب، ستا نه یو تپوس کومه که د شفتالانو او بټنګانو بورډ جوړ شی او هغه پیسے زما د ګنو زمیندارو له راکړی، ته به پرے خفه یئ که خوشحاله؟ هغه وئیل چه زه به پرے خفه یم نو ما ورته اووئیل چه زه د ګنو زمیندار یمه، زما نه پیسے کټ شوی دی، زما د ګنو پیسے کټ شوی دی د شلو کالو، تا له نے ولے درکړے؟ وئیل نے

چه ما له حکومت راکولے نو زه به څه کوم۔ نو زه د دے حکومت د واک دارانو نه دا تپوس کومه چه دا کومه پیمانه وه او دا کوم انصاف وو چه د یو غریب زمیندار نه د ګنو پیسے کټ شوی دی، پنځویشت پیسے فی من او تاسو هغه راواغستے او زه دا برملا وایم چه دا پیسے تاسو د سیاسی غرض د پاره استعمال کړے، دا مو انصاف اونه کړو۔ نو دا شے واپس کیدل دی او دا هغه ځائے کښې لګول پکار دی چه د کوم ځائے خلقو نه هغه پیسے کټ شوی دی او د کوم ځائے نه ګنے تلے دے، دا زما خبره ده۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ممبر صاحب! تاسو لږ بیا Elaborate کړئ، څوک سینیټر وو او څومره Amount وو، نو بیا د هغے نه پس به ټریژری بنچ جواب ورکړی۔

حاجی عبدالرحمان خان: دا Amount خو زما په خیال په کروړونو کښې دے۔ ما ته نے تعداد نه دے ښودلے۔ زه ممبر یم، د بورډ میټنګ مے نه دے راغوښتے۔ د کوم اختیاراتو لاندے دوئ دا تقسیم کړے دے؟ زمونږه دا سینیټر صاحب چه وو، ما چه څومره آوریدلی دی نو زمونږه فنډز نے ظفر جهګړا له ورکړے دے او د چارسدے هغه نے ورکړے دے نثار خان له، د مردان نے ورکړے دے سرانجام خان له، څومره چه ما آوریدلی دی، زه نه یم خبر۔ پکار دا ده چه دے مرکزی حکومت سینیټرانو له دا فنډ ورکړے نه وے۔ دا شوګر سیس فنډ زمونږه د زمیندارو دے۔ مونږه سره بے انصافی شوے ده۔ زه ټولو رونړو ته او دے هاؤس ته درخواست کومه چه دا زمونږه سره یوه لونے ظلم شوے دے او د دے ظلم مخ نیوے د پاره مونږ سره تاسو ټول په شریکه ملګرتیا اوکړئ او دا فنډز واپس کړئ۔ مونږ په دے باندے به احتجاج کوؤ۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ارباب ایوب جان صاحب!

ارباب محمد ایوب جان: جناب سپیکر صاحب! څنګه چه عبدالرحمان خان اووئیل، دغه شان زما هم دا مسئله ده څکه چه ګنے زیات پیدا کیږی زما په حلقه کښې او د عبد الرحمان خان په حلقه کښې۔ ځزانه شوګر ملز هم زما په حلقه کښې دے۔ اوس جناب سپیکر صاحب، دا شے تقریباً د شلو کالو نه، د کله

نه چه دا خزانه شوګر ملز جوړ شوے دے نو زمونږ د زمینداران نه پچیس پیسے فی من کټوتی کیږی د سړکونو د پاره چه په کومو علاقو کښ ګنی پیدا کیږی او هلته ټرانسپورټیشن ټهیک نه شی کیدلے نو هغه کلو ته به مونږه سړکونه جوړوو۔ تقریباً دا خزانه شوګر ملز چه کله نه جوړ شوے دے جناب سپیکر صاحب، نو د هغه وخت نه زمونږ نه دا پیسے کټ کوی۔ هغه پیسے جمع شوے۔ اوس جناب سپیکر صاحب، سوال دا پیدا کیږی چه ټیکسونه خو مونږه ورکوو، هغه زمینداران نے ورکوی چه څوک ګنی پیدا کوی او په هغے نوم باندے Particularly د هغے Head د لاندے هغه پیسه کټ کیږی چه تاسو ته سړکونه جوړوو، اوس جناب سپیکر صاحب، ستاسو په خدمت کښ زه دا ګزارش کوم چه دا د کوم خائے انصاف دے چه پیسے خو ته د زمیندار نه کټ کوے چه ستا ګنے پیدا کیږی او روډ به درته جوړووم، هغه ټیکس خو ته د هغه زمیندار نه واخلے او هغه روډ ټیکس خو ته د Grower نه اخلے، د Sugarcane grower نه او سړکونه ته لګیا یے بل چرته جوړه وے۔ مطلب دا دے چه اوس میونسپل کارپوریشن پشاور دے او ډسټرکټ کونسل پشاور دے، ډسټرکټ کونسل پشاور چه دے، نو د هغے ښه آمدن دے، د میونسپل کارپوریشن بیړه غرقه شوه نو هغه د ډسټرکټ کونسل پشاور نه یو نیم کروړ روپئ واخلی او وائی چه دا مړ اس چه دے، نو دا ژوندے کوو۔ ټیکسونه زمونږه د کلو خلق ورکوی، د ګړو، د ګانړو، د سبزو، د ګنو، هغه زمونږ نه ډسټرکټ کونسل واخلی، ټهیک ده جی ---

Mr. Deputy Speaker: what about export tax?

ارباب محمد ایوب جان: ایکسپورټ ټیکس رانه واخلی او د میونسپل کارپوریشن هدو څه پته نه لګی چه د دے آمدن چرته خی نو هغه مړ اس -----

Mr . Abdul Subhan Khan (Minister for Information): Sir , what about octroi tax?

ارباب محمد ایوب جان: نو هغه Whatever may be, خو خبره دا ده جناب سپیکر، چه هغه ټیکسونه پکار ده چه زمونږ په کلو باندے اولګی۔ هم دغه

شان زمونږه په صوبه کښې یا په پاکستان کښې ټیکس خو ته به د افتخار مهمند نه اخلے د ګنو یا د عبدالرحمان خان نه به نے اخلے او سړک به ته جوړوے په هغه خائے کښې چه هلته هډو ګنے نشته دے۔ نو مونږه به فریاد نه کوؤ جی؟ دا خلق به فریاد نه کوی چه زمونږه پیسے چرته لاړے؟ پیسه مونږه ورکوؤ او سړکونه نورو خلقو ته جوړوئ۔ جناب سپیکر صاحب! نمبر ون خبره، دویم نمبر خبره دا ده چه زمونږ نه --------

<u>جناب افتخار الدین</u>: پوائنټ آف آرډر، سر۔ جناب سپیکر صاحب! زه په یو شی باندے دَ ارباب صاحب پوهه نه شوم خکه مے پوائنټ آف آرډر اوچت کړو چه ارباب صاحب لاس شوره وی داسے جنوبی اضلاع سائډ ته حالانکه زمونږه خلقو ګنے د دے وجے نه پریښودلو چه هر څه دلته خرچ کیدل۔ مطلب دا دے چه زمونږ نه به دغه پیسے کټ کیدلے خو روډونه به چرته جوړیدل په پیښور، په مردان او په چارسده کښې۔ نن ارباب صاحب بیا داسے لاس اوږدَوی نو زه وایم چه زمونږ سره خو د دے نه مخکښې زیاتے شوے دے۔

<u>جناب ڈپٹی سپیکر</u>: ارباب صاحب! تاسو ایډجرنمنټ موشن سره ------

<u>ارباب محمد ایوب جان</u>: او جی، نو جناب سپیکر صاحب، زه ستاسو په نوټس کښې یوه بله خبره راولمه چه هر کله دا د Road cess د پیسو تقسیم شوے دے نو ټول ایم پی ایز چه د متعلقه ضلع نه تعلق لری، هغه Confidence کښې خلق واخلی۔ جناب سپیکر صاحب! دے تقسیم کښې یو نیم کروړ روپئ پیښور کښې یو Defeated Senator ته نے ورکړے۔ دلته زمونږ څومره ایم پی ایز ناست دی چه هغوی الیکشن ګټلے دے او راغلی دی، دوئ ته ورکړئ، زمونږ رونړه نه دی، دوئ به نے مونږ ته هم راکړی، زمونږ په صلاح مشوره باندے به کار هم اوکړی۔ یو سړے چه درے خلے ما نه Defeat شوے دے، د خدائے پاک په مرضی باندے به Defeat شوے وی، خو درے خلے هغه سړے Defeat شوے دے۔ He is a defeated man and he is now a Senator and he is getting one and half crore ruppees. چارسده کښې هم داسے چل شوے دے۔ چارسده کښې هم داسے تقسیم شوے دے۔ نو د

ریورو ویش دے بهنی- مونږ دا تپوس کوؤ، مونږ نه نے جناب سپیکر صاحب، سکیمونه غوښتی وو هم دے حکومت چه مونږ ته د سکیمونو نشاندهی اوکړئ چه چرته ګنے پیدا کیږی چه هغه سړکونه جوړ کړو- مونږه سکیمونه ورکړل- زما، دَ عبدالرحمان خان او زمونږ د خلقو پریویلج موشن هم جوړیږی چه مونږ نه مو سکیمونه واغستل، مونږ د کلو خلق راوغوښتل چه بهنی، تاسو ګنے پیدا کوئ، حکومت ښه دے، Road cess لګیا دے مونږ ته راکوی، ستاسو سړکونه جوړوو --------

جناب ڈپٹی سپیکر: ارباب صاحب! دا Road cess دے که Sugar cess دے؟

ارباب محمد ایوب جان: Sugar cess دے روډ د پاره-

جناب ڈپٹی سپیکر: روډ د پاره او زما خیال دے، سپرے د پاره هم دا مخکښ وو-

ارباب محمد ایوب جان: سپرے، د هغے بیل راخی- زمونږ زمینداران خو غرق شو- خومره خومره کټوتی د هغوی نه کیږی او کار نے هډو کیږی نه- مونږ نه جناب سپیکر صاحب، دوئ سکیمونه اوغوښتل چه تاسو سکیمونه راکړئ- مونږ د کلو خلق راغو ښتل چه بهنی، ستاسو دا دوه میله، درے میله، دا ستاسو ګنی پیدا کیږی او دا حکومت اوس دا روډ سیس تقسیمَوی، سکیمونه راکړئ- مونږه سکیمونه واخستل- شپږ شپږ کاپیانے وتیل نے چه ډکوئ به- یو هم نه جی، شپږ شپږ کاپیانے مو ډکے کړے، هغه مو واستولے- خبر شو هلته سینیټر صاحب، هلکه سینیټر صاحب، که دومره تاسو خواهشمند یئ چه هغه -------

جناب ڈپٹی سپیکر: ارباب صاحب! Thank you very much. اوس From Treasury Bench نه څوک خبره کول غواړی؟

میاں مظفر شاه: دے کښ جی مونږه د نوښار خبره کوؤ-

جناب ڈپٹی سپیکر: هغوئ نه پس بیا تاسو خبره اوکړئ-

جناب فتح محمد خان (وزیر جنګلات): زه خبره کومه جی- دا خو Admissibility د پاره عبدالرحمان خان ډیرے ښے خبرے اوکړے، د هغے مخالفت زه نه کومه

جی‌خو چه منسټر خپله خبره اوکړی جی، که حقیقت داسے وی، دا خو زیاتے دے او که حقیقت داسے نه وی نو چه منسټر خو کم از کم -------

جناب جان محمد خٹک: زه تاسو ته نور انفارمیشن درکوم کنه جی- زمونږه نوښار هم پکښې دے --------

ارباب محمد ایوب جان: دیو یو جواب به ورکړئ- دا ټول --------

وزیر جنگلات: چه یو خل ایډمټ شی جی، بیا د دوه گهنټو د پاره تاسو په دے باندے بحث کولے شئ --------

ارباب محمد ایوب جان: یو خانے دِ جواب ورکړی کنه فتح محمد خان-

وزیر جنگلات: چه ایډمټ شوے نه وی نو صرف یو کوم Mover چه دے، هغه دا پیش کولے شی --------

جناب ڈپٹی سپیکر: یو منټ، تاسو خبره اوکړئ، بیا به زه خبره کومه-

جناب جان محمد خٹک: یو منټ جی، زه عرض کومه -------

جناب محمد افتخار خان مهمند: جناب سپیکر صاحب! گزارش دا دے -------

جناب جان محمد خٹک: داسے چل دے جی، زه --------

ایک آواز: ایډمټ کوئ نے جی- بس ایډمټ کوئ نے جی د بحث د پاره-

جناب ڈپٹی سپیکر: نه، نه، بهتر خبره دا ده چه د حکومت تاسو خبره واورئ-

جناب جان محمد خٹک: خو زما خیال دے چه -------

جناب ڈپٹی سپیکر: زما خیال دے، هغے نه پس --------

میاں افتخار حسین: جناب سپیکر صاحب! که دومره مهربانی اوکړئ چه دے په یو خانے جواب راکړی نو هغه به ښه وی کنه-

جناب ڈپٹی سپیکر: یو، یو منټ تاسو خبره اوکړئ جی- مخکښې افتخار خان تاسو خبره اوکړئ، هغے نه پس به هغوی اوکړی ---------- (شور)

وزیر اطلاعات: جناب سپیکر صاحب! نن Discussion دے یا ډیبیټ دے؟

Mr. Deputy Speaker: No, no, not debate, they just to supplement the motion. One minute, please.

جناب جان محمد خٹک: جناب سپیکر صاحب! زه په دے کښې یو عرض کوم، لږ دوئ ته به نور انفارمیشن هم ورکوؤ کنه جی ------

Mr. Deputy Speaker: They just want to provide you more information regarding this 'Adjournment Motion'. No debate, only information.

جناب جان محمد خٹک: دا انفارمیشن به ورکوؤ چه څنګه بندر بانټ شوے دے، د دے هم تاسو ته اعداد و شمار اوښایو جناب۔ خبره دا ده چه ستاسو د ګورنمنټ په مونږ څه احسان نه دے، دا دَ ګورنمنټ پیسے نه دی۔ دا چونکه زمونږ ه سړکونه خراب حالئ کښې دی نو دا د دے مالکانو سره، Growers سره د مل دا یوه سمجهوته ده چه مونږه به ستاسو د سړکونو د پاره، د Repairing د پاره دا پچیس پیسے Willingly ورکوؤ۔ پکار دا وه لکه ایوب جان چه وائی چه مونږ ټول ممبرز نے راغوښتی وے، دا جمع شوے، د ټولے صوبے پول ته راغلے او پول نه بیا Division wise distribution نے اوکړو۔ نو زمونږه پشاور ډویژن ته نے ورکړے دو کرور او بیس لاکھ روپئ۔ تقسیم نے څنګه اوشو؟ د کمشنر صاحب دفتر کښې دوه سینیټران صاحبان وو او لږ زمونږه، سمه خبره دا ده چه مونږه چغه هغه وخت اووهله نو هر څه چل چه وو نو ما نثار ته ټیلفون اوکړو او دا بل خو ملاؤ نه شو، ما اوونیل بهئی، دے کښې به نوښار نه Ignore کوئ۔ نو داسے اوشو چه ایک کرور، بیس لاکھ روپئ ورکړے نثار خان، کل آباد ته او ستاسو انفارمشن لږ غلط دے جی، اسی لاکھ روپئ نے ورکړے اقبال جهګړا ته او چالیس لاکھ روپئ زمونږ نوښارته هغوئ ورکړے۔ زه دا حیران یم چه په کومه طریقه باندے دا بندر بانټ شوے دے، کومه طریقه ده؟ مونږه په اعتماد کښې نه یو اخستے شوی او بس دغه اوشو۔ بیا ما کمشنر ته ټیلیفون اوکړو، هغه اوونیل چه جی بس دا تقسیم اوشو۔ ما اوونیل چه دا څنګه تقسیم اوشو؟ نو دغه پوزیشن دے جی۔

Mr. Deputy Speaker: Mian Iftikhar Hussain, please one minute.

میاں افتخار حسین: سپیکر صاحب! ډیره مهربانی۔ رشتیا خبره دا ده چه دے جان

محمد خان ځنګه خبره اوکړه، په نوښارکښې د ټولو نه زیات او ښه ګنے پیدا کیږی او حق د نوښار -------

جناب ڈپٹی سپیکر: مونږ ته خو ده چرته ګړه نه دا رالیږلے۔ (قہقہہ)

میاں افتخارحسین: زه دا خبره په دے بنیاد کوم چه دلته نے ذکر اوشو۔ ارباب صاحب هم ذکر اوکړو چه یو سړی درے ځلور خله الیکشن بائیللے دے، هغه ته دا ډیوټی حواله شوے ده۔ دا پیسے ورکړے شوی دی، نو هغه نے په هغه ځائے کښې نه لګوی چه دا په کوم ځائے کښې لګول پکار دی او دلته که چرے چا ته اطلاع وی که نه وی، زما په حلقه کښې دا د هغه ځلورمه جلسه ده، هغه پیسے زما خلاف لګوی ځکه چه هلته زما خلاف زما نه چا الیکشن بائیللے دے، هغه هم دوئ Support کول غواړی، هغوی سره هم د دوئ مهربانی ده۔ نو زه دا خبره کوم چه یو خو د ټولو نه غټه خبره دا ده چه د DDAC د رولز مطابق، چه په ډسټرکټ کښې د Developmental کارونو هر یو شے چه تقسیمیږی، هغه دایم پی اے نه بغیر نه شی کیدے۔

جناب ڈپٹی سپیکر: جناب شعیب خان۔

میاں افتخارحسین: یو منټ جی، زه دا خبره خو ختمه کړم۔ په دے باندے به ستاسو د طرفه رولنګ راځی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: نه، ډیبیټ به پرے بیا اوکړو۔

میاں افتخارحسین: نه جی، زه خپله خبره ختموم۔ زه دا خبره کوم چه Already تقسیم شوے، یو دا غلط شوے دے او بل د هغے د پاره چه اوس دا کومه طریقه خپله کړے شوے ده، دا نے هم غلطه ده۔ بل چه د کمشنر او د ډی سی په Through کوم تقسیم شوے دے او هغے کښې ایم پی ، ایز نه وو، دا هم غلط شوے دے۔

جناب ڈپٹی سپیکر: شعیب خان۔

جناب محمد شعیب خان (صوابی): جناب سپیکر! د صوابئ پیسے هم داسے سړی ته ورکړے شوی دی چه هغه دوه درے خله شکست خوړلے دے، سزانجام خان له نے ورکړی دی، دوه کروړه روپئ نے ورکړی دی، یو کروړ روپئ

زمونږ د صوابئ دی خو زمونږ نه نے تپوس نه دے کړے۔ پکار ده چه د هغے خانے ایم پی ایز شته، چه هغوئ له دا خپل حق ورکړی۔ هغوئ ته خپلے لارے معلومے دی، خپلے کوشے ورته معلومے دی خکه چه زمونږه د صوابئ حالت خو دومره خراب دے چه نه ارب روپئ مونږه صوابئ له دَ تمباکو ایکسائز ډیوټی ورکړو او مونږه له هیڅ هم نه راکوی۔

Mr. Deputy Speaker: Honourable Iftikhar Mohmand, one minute please.

جناب محمد افتخار خان مهمند: جناب سپیکر صاحب! زه ستاسو شکریه ادا کومه جی۔ محترم جناب عبدالرحمان خان چه کوم تحریک التوا پیش کړے دے، د هغے د Admissibility په باره کښ زه تاسو ته دا گزارش کوم چه It is a matter of extreme public importance. وجه صرف دا ده جناب سپیکر صاحب، چه کوم طریقه کار د Sugarcane cess د پیسو د پاره اوس اختیار شوے دے، هغه لار نے چه کومه اختیار کړے ده، هغه بالکل غلطه ده۔ جناب سپیکر صاحب! گزارش دا دے چه Over the last ten years دا د Sugarcane cess پیسے، چه څنگه زما محترم رونړو اووئیل، د Growers نه At source deduct کړی او It goes into an account. جناب! Unfortunately پرابلم دا دے چه Over the last ten years دا یو داسے طریقه کار اختیار کړے شوے دے چه هغه د فود ډیپارټمنټ په اکاونټ نمبر ون کښ جمع کوی۔ دا چه کوم وخت کښ د فنانس کمیټئ میټنگ وو جناب سپیکر صاحب، نو مونږه دوئ ته دا اووئیل چه The Provincial Government has got no right to hold on this amount, because it is not generated by the Provincial Government. It is generated at the Zonal, دا Sugarcane Zones چه کوم جوړ شوی دی، په هغه خانے کښ Generate کیږی۔ د کین کمشنر چه کوم دے، هغه ډپټی کمشنر وی، د هغه په ذریعه باندے، اوس جناب سپیکر صاحب! That particular money amounts to about eight crore rupees. چه کوم دوئ چار کروړ روپئ ریلیز کړی دی Basically مخکښے پشاور ډویژن یو وو، اوس مردان او پیښور په مینځ کښ چه هر

کله دا Division چه کوم دے جناب سپیکر صاحب، It has to be seen as to what is the quantity of sugar cane? چه آیا په مردان ډویژن کښې څومره Quantity sugar cane شوے دے او پشاور ډویژن کښې ؟ Then, Janab Speaker Sahib all the factories have got a record چه فلانکی محال نه، فلانکی علاقے نه څومره گنے راغلے وو، And how much amount is due for that Mahall? Therefore, Janab Speaker Sahib, to actually use it for a political purpose, how the right to be given to Honourable Senators? Janab Speaker Sahib, this is the gross violation of the procedure laid down and this is not the first time, this particular cess has been going on since the factories came into existance.

چه هر یو محال، چه کوم خائے نه Therefore, the previous procedure. کوم گنے راغلے دے، د هغوئ چه کوم Requirements دی، Because, it is negating their rights, هغه sugar cane growers' right چه کوم دے جناب سپیکر صاحب، We can not usurp them.

Mr. Deputy Speaker: Thank you very much. Thank you.

Mr. Muhammad Iftikhar Khan Mohmand : Janab Speaker Sahib! I will just take one second more. We will yet to protect their rights. We are not here to do a cosmetic exercise, because that will be fruitless. Through you Janab Speaker Sahib, and through this august House, we actually want to take their right back to growers. Thank you.

جناب عبدالسبحان خان (وزیر اطلاعات)، شکریه، سپیکر صاحب۔ زمونږ بعض قابل احترام او آنریبل اپوزیشن بنچز باندے چه کوم رونړه ناست دی، د هغوی د انفارمیشن د پاره زه هم دوه څلور خبرے په Road cess باندے کول غواړم، په Sugar-cane cess مسئلے باندے خو د هغوی یو خبره، زما خو د دغه رونړو نه دا توقع نه کیږی لکه څنګه چه اوس دا خبره Discuss شوه چه په چا دِ الزام یا بهتان اولګوی، هم دلته Repeat شوه، زما دوه رونړو دا اوونیل

چه سرانجام خان ته فنډ ملاؤ دے، باقاعده نے زما د قابل احترام مشر نوم واغستو۔ دا افتخار خان پخپله څو پیرے د روډ سسِ کمیټئ ممبر پاتے شوے دے، زه پخپله پاتے شوے یم، کیدے شی بهادرخان هم پاتے شوے وی، د روډ سِس کمیټی، یو دَ ډسټرکټس روډز کمیټی وی او یو دَ ډویژنل، چه د هغے کمشنر مشر وی. چیئرمین وی او هغه بیا د Growers نه کسان Nominate کوی او چه څنګه دوئ اووئیل، هغه صحیح خبره اوکړه او هغه د چه کوم خانے نه ګنے پیدا کیږی، هلته دوئ په هغے باندے سرکونه جوړوی۔ څنګه چه تاسو اوفرمائیل چه د Cane Cess پیسے دی او Road Cess Committee ده، هغه Distribution کوی Among the growers for the public interest خو دلته زما دوه روڼړو اووئیل چه سرانجام خان، False، بالکل غلط ده جی، He is not member of the road cess committee او نه د هغه پکښ د دو کروړ سکیم شته۔ زه بالکل ګارنټئ سره دا وایم، بالکل د اپوزیشن نه بهادر خان هم په دے خبرے اوکړے چه هغه نه د Road Cess Committee member دے، نه نے هغه له څه یو روډ ورکړے دے، نه نے سکیم ورکړے دے۔ تر څو پورے چه دلته د دے خانے د ایم این ایز او د سینیټرز، نو زه به خپل قابل احترام روڼړو ته اووایم، بالکل ستاسو خپل اعتراضات په خانے دی، ټهیک به وی خو چه تاسو د Treasury benches سینیټرز یادوئ نو بیا مهربانی اوکړئ، هغه هم یادوئ چه کوم د اپوزیشن کښ ایم این ایز دی یا ستاسو د پارټئ سره تعلق لرونکی ایم این ایز یا سینیټرز دی او د هغوی ګنے به هم نه وی، د هغوی به ګنی د پاره زمکه هم نه وی، هغه به Agriculturists هم نه وی، که هغوی ته بیا ملاؤ وی نو بیا به لږ دغه انصاف په تاسو باندے پریږدو۔ ما صرف دغه Clarification کولو چه د Road Cess Committee ممبران وی او هغه ممبران د Growers نه وی خو دلته کښ چه پکښ دوه ممبرانو د سرانجام خان نوم واغستو نو سرانجام خان ته نه دے کښ فنډ ملاؤ دے، نه سرانجام خان د هغے کمیټئ ممبر دے۔

Mr. Deputy Speaker: Any other Member from the Treasury Benches.

جناب غفور خان جدون (وزیر خوراک): جی، جی ---------

وزیر جنگلات: جناب سپیکر صاحب! ----------

جناب ڈپٹی سپیکر: جناب غفور خان جدون، تاسو ته به موقعه ملاؤ شی۔

وزیر خوراک: جناب سپیکر! د حاجی عبدالرحمان خان ایډجرنمنټ موشن خو د تیرے ورځے وو او د دوئ خدشات دی، هغه به ختمول غواړی جی۔ اصل کښې د Sugar Cess دا خبره د 92-1991 نه شروع ده۔ دے موجوده حکومت ته دا یو ډیر لوئے اعزاز حاصل دے چه په 1998 او 1999 کښې نے دا پیسے ریلیز کړے، دا ډیر لوئے اعزاز دے، شپږ اووه کاله پس دا Sugar Cane Cess دوئ ریلز کړو، دا فنډز دوئ ریلیز کړو او زه دا عرض کومه چه په دے کښې د سینیټرانو نومونه دوئ واخستل، په دے کمیټو کښې لس کسان چه کوم دی، هغه سرکاری افسران وو جی او په پیښورکښې شپږ چه کوم دی، هغه Non-officials دی، Growers ، نومونه به درته واخلم جی بالکل او دغه شانتے په مردان کښې لس او شپږ، نو اووه کسان په هغے کښې Non-growers، په دوئ کښې هسے د سینیټر، ایم پی اے او ایم این اے رول نشته او نه هغوئ په دے کمیټئ کښې شامل دی ------

جناب ڈپٹی سپیکر: شپږ کسان Non-growers دی۔

وزیر خوراک: نه جی، Growers دی۔

Mr. Deputy Speaker: Growers, you said 'non-gorwers'.

وزیر خوراک: او دا Growers چه کوم په پیښورکښې دی، یو صالح محمد خان دے جی، یو محمد عالم خان دے، شریف الله خان دے او طاهر خان دے، حاجی جان محمد دے او محمد آمین دے۔ دا پیښورکښې دی او کمشنر د دے چیئرمین دے۔ په مردان کښې علی اصغر خان دے، محمد امین خان دے، خالد خان دے او اسماعیل جان دے، عبدالله خان دے، سید فقیر دے او حاجی ظفر دے، دا د دے ممبران دی۔ کمشنر د دوئ چیئرمین دے، د دوئ په سفارشات باندے د سرکونو د پاره څه لږے ډیرے پیسے دوئ ریلیز کړی دی۔ په دیکښې کمشنر پشاور ډویژن ته 12.485 ملین، کمشنر مردان ډویژن ته 20.587 ملین،

کمشنر بنوں ډویژن ته 5,53,000 او کمشنر ډی آئی خان ډویژن ته سارهے آته لاکھ روپئ ایښودے شوی دی۔ Totally دا پیسے دی۔

په دے کښ د دے Growers او د دے سرکاری افسرانو په سفارشاتو باندے دا پیسے ریلیز شوی دی، روډونو ته تلی دی، په دغه ایریا کښ خرڅ شوے دی او بل دا ده چه په دے کښ د فوډ ډیپارټمنټ --------

حاجی عبدالرحمان خان: پوائنٹ آف آرڈر، جناب سپیکر۔

وزیر خوراک: زما عرض خو واورئ۔

حاجی عبدالرحمان خان: زه عرض نه آورم۔ دا کوم اعداد و شمار ئے چه اوښودلو که په دے کښ دَ کمشنر په حکم باندے شوی وی او دا کسان ئے راغونښتی وی نو دوئ دِ مونږ ته هغه سړکونه اوښائی چه دَ کنو کوم سړک پکښ شوے دے؟ یو، دویم نمبردا ده چه زه هم په دے بورډ کښ ممبر ووم، ریکارډ ئے راوغواړئ، زه پخوانے ممبر یمه او تر اوسه پورے د هغے میټنګ نه دے شوے۔ دا دوئ ته زه په دے ډیر د خفګان اظهار کوم چه دا وزیران صاحبان چه دی، دوئ غلط اعداد و شمار په دے اسمبلئ کښ ولے پیش کوی؟ کنی دے غفور خان ته به زه دا ثابته کړم چه دا تا چه څه اوونیل، دا ټول غلط دی، سینیټر ناست دے او د هغه په خوښه ئے ټول سړکونه جوړ کړی دی، د اقبال جهګړه، او که داسے نه وه نو چه دے ما سره څومره شرط ایږدی، زه ورسره ایږدم۔

وزیر خوراک: زما عرض واورئ جی۔ زه دَ لالا ډیر زیات احترام کوم۔ زه بالکل شرطونه چا سره نه ایږدم۔ ما چه د اسمبلئ په فلور باندے کوم اعداد پیش کړی دی، دا بالکل Correct دی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: غفور جدون صاحب! تاسو دا کوم انفارمیشن چه پیش کړل، دا اسمبلئ سیکرټریټ ته ورکولے شئ؟

وزیر خوراک: بالکل جی۔

جناب ڈپٹی سپیکر: دا تاسو ورکړئ۔

وزیر خوراک: دا خو ستاسو ریکارډ دے۔

جناب ڈپٹی سپیکر: تاسو یوه کاپی ورکړئ۔

وزیر خوراک: بالکل، هر څه ریکارډ ورکوم۔ ما چه څه اوونیل، بالکل دے کښې هیڅ قسم غلطی نشته۔ د دے میټینګونه شوی دی۔ که د دے میټینګونه نه وی شوے نو زه درته د دے جوابده یم او سبا به زه درته انشاء الله تعالیٰ د هغه میټینګونو ټائم هم اوښایم، تاریخ به درته هم پیش کړم، ټایم به نے درته هم پیش کړم چه کوم درے، زما په خیال، چه څومره پورے زه -------

حاجی عبدالرحمان خان: سپیکر صاحب! ډیره آسانه شوه۔ دا به کمیټئ ته، دا هاؤس دِ یوه کمیټی جوړه کړی۔ کمشنر پشاور ډویژن به هم راوغواړو او دا خلق به هم راوغواړو او ډیر د پښتو په طریقه به ورته اووایو چه تیره کړه کلمه چه تاسو کړی دی؟

وزیر خوراک: بالکل جی، سپیکر صاحب۔

حاجی عبدالرحمان خان: بالکل۔ دے غفور خان سره زما دا شرط شو، یو کروړ روپے جرمانه به زه ورکړم۔

وزیر خوراک: شرط زه نه ایږدم۔

حاجی عبدالرحمان خان: چه دا خان څه وائی، دا ټهیک نه وائی او چه زه څه وایم، هغه ټهیک وایمه، او بالکل۔

وزیر خوراک: زه سپیکر صاحب، ---------

جناب بشیر احمد بلور: پوائنټ آف آرډر باندے زه هم عرض کوم۔

جناب ڈپٹی سپیکر: ارشاد۔

جناب بشیر احمد بلور: که ما ته اجازت وی، نن سحر چه مونږ ناست وو په چیمبر کښې نو بهادر خان اوونیل چه مونږ تپوس اوکړو وزیر صاحب نه چه دا پیښور کښې اوړه څنګه تقسیموئ؟ نو دوئ اوونیل چه زه د ایم پی اے صاحبانو په ذریعه په پیښور کښې اوړه تقسیموم۔ زه په فلور آف دی هاؤس Categorically وایم چه نه ما ورته ونیلے دی چه زما هم چا له ورکړه او نه دوئ چرته ما ته خط لیکلے دے چه یره، تاسو له څه اوړه درکړو۔ په دے وجه دا دِ کلیر شی۔

وزیر خوراک: سپیکر صاحب! چه کله دَ اوړو مسئله راشی نو بشیر بلور صاحب ته به جواب ورکړم، اوس د شوګر کین سِس خبره کیږی- زما عرض واوری، د شوګر سس خبره کوم-

جناب نیک عمل خان: سپیکر صاحب! پوائنټ آف آرډر-

جناب ڈپٹی سپیکر: جی، پوائنټ آف آرډر د ایډجرنمنټ موشن حوالے سره دے؟

جناب نیک عمل خان: او جی، دے سره دے، د ملاکنډ ایجنسی متعلق- مونږ په ملاکنډ کښی هم ایم پی اے، Growers یو او زما په خیال چه تر اوسه پورے دا دوئ چه د ټولو نومونه واخستل چه د مردان، د بنوں او تر ډیرو پورے، د ملاکنډ ډویژن پکښی هډو خه نوم نشته- مونږ د هغه خاتے یو او Growers یو- زمونږ نه باقاعده دلته دے ملونو ته ګنے راخی او زمونږ تر اوسه پورے یو سړک نه دے جوړ شوے-

وزیر خوراک: دادَ مردان ډویژن دَ کمیټئ نومونه ما واخستل جی-

جناب ڈپٹی سپیکر: ستاسو په خدمت کښی دا Proposal دے ------

